برتولت برشت

ژباړه: فرهاد ویاړ

## ما سره جورجیا ته راشه

وګوره دا ښار، وګوره

چې څومره زوړ دی.

په یاد راوړه، چې یو وخت څومره ښایسته و.

اوس ورته په ګرمه سترګه مه ګوره

په سوړ زړه ورته وګوره او ووایه

چې زوړ دی.

ما سره جورجیا ته راشه

چې په کې نوی ښار ودان کړو

او کله چې دا ښار هم زوړ شي

مونږ، به هلته، نه یوو.

وګوره دا ښځه، وګوره

چې څومره سړه ده

په یاد راوړه چې یو وخت څومره ښایسته وه

اوس ورته په ګرمه سترګه مه ګوره

چې څومره زړه ده.

ما سره جورجیا ته راشه

پریږده هلته

په ښکلو میرمنو پسې ووسو

او کله چې هغوی

هم زړې شي

مونږ، به هلته، نه یوو.

*          *

وګوره خپل اندونه، وګوره

چې زاړه دي

په یاد راوړه چې یو وخت څومره نوي وو.

اوس ورته په ګرمه سترګه مه ګوره

په سوړ زړه ورته وګوره او ووایه

چې زاړه دي.

ما سره جورجیا ته راشه

هلته به وګورئ

ډیر نوي اندونه

او کله چې دا اندونه

هم زاړه شول

مونږ، به هلته، نه یوو.